| | | |
|---|---|---|
| **جمهورية مصر العربية** | | **٤ ربيع الأول ١٤٤١هـ** |
| **وزارة الأوقاف** | **لغة البشتو** | **١ نوفمبر ٢٠١٩م** |

(١)

# د پيغمبرصلى الله عليه وسلم ژوند د صحيح اسلام د پلي والي لپاره نمونه ده

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمايلي: **« لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا» ژباړه: « په يقيني توګه، ستاسي لپاره د الله په پيغمبر کي د نيکۍ يوه خورا غوره نمونه ده، د هر هغه چا لپاره ده چي د الله او د اخرت د ورځي هيله من وي او الله ډېر ډېر ياد کړي»** او زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

يقينا الله تعالى خپل رسول محمد صلى الله عليه وسلم لارښوونکی او زيری ورکوونکی را ليږلی دی، او د الله تعالى په اجازه يي د هغه لوري ته خلک رابلل هغه رڼا او ډيوه ده، د هغه رسالت نړيوال دی د هر ځای او هر وخت لپاره مناسب دی، نو دا ټول لازموي چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ويناوي کړني او ټول حالات د صحيح اسلام د پلي والي لپاره يوه نمونه ده، پدې کې د تعجب خبره نشته ځکه پيغمبر صلى الله عليه وسلم د خپل رب سره په اړيکه کې او همدارنګه د خلکو سره په اړيکه کې د هغوی د بيلابيلو اجناسو رنګونو او عقيدو سره د قرآن کريم د منهج تابعداري کوله نو له همدي لپاره کله چې د عائشي رضى الله عنها څخه د

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د اخلاقو په هکله پوښتنه وشوه نو یي وویل د هغه اخلاق د قرآن څخه وو.
څوک چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په سیرت کې فکر وکړي نو وبه ګوري چې هغه غوره لارښوود او پیشوا دی چې پخپلو ټولو ویناوو او کړنو سره یي مونږ ته لارښوونه کړی لدي جملي څخه د هغه صداقت او امانتداري ده هغه د خپل ژوند په اوږدو کې رېښتېنی او امانتداره وو تر دي چې د خپل قوم په منځ کې په رېښتیولي او امانتدارۍ باندي مشهور شوی وو دا مخکي لدي چې په پیغمبرۍ باندي مبعوث شي څکه خو شاعر شوقی پخپل شعر کي داسي ویلي: په وړوکوالي کې پخپل قوم کې د امین لقب ورکړل شو* متهم ته هیڅکله د امین لقب نه ورکول کیږي*.
او کله چې د روم پاچا هرقل ابوسفیان بن حرب مخکي لدي چې اسلام راوړي ځان ته را وبللو ترڅو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هکله تري پوښتنه وکړي د هغوی ترمنځ اوږدي خبري ترسره شول هرقل ابوسفیان ته وویل: آیا تاسو په هغه باندي تورونه پوري کوئ؟ ابوسفیان ورته وویل نه، ورته یي وویل: آیا هغه خیانت کړی؟ ابوسفیان وویل نه مونږ د اوږدي مودي را هیسي د هغه سره یو او هیڅ داسي څه مو ندي لیدلي ورڅخه او ددي مقصد هم دا دی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم صداقت ټولوته روښانه وو.
د امانتدارۍ او د صداقت شکلونه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په شخصیت کې د هجرت په شپه ډېر برڅېره شو او هغه پداسي ډول سره چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم علی بن ابی طالب رضی الله عنه ته امر وکړ چې د هغه په بستره کې ویده شي او تر هغه وخته پوري انتظار وباسي چې ټول امانتونه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره وو بیرته خپلو خاوندانوته وسپاري سره لدي چې هغوی یي په دښمنۍ کې ولاړ ووهغه ییله خپل کور څخه ویستلی وو او زیان یي ورته رسولی وو او د هغه صحابه وو ته یي هم زیان رسولی وو او له هغوی څخه یي ټول

هغه څه اخيستي وو چې لرل يي دا ځکه چې مومن مسلمان لپاره هيڅ جواز نلري چې حتى د خپلو دښمنانو سره خيانت وکړي الله تعالى پدې هکله فرمايي: « وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْخَائِنِينَ» ژباړه: « او که د کوم قوم له خيانت څخه ستا ويره وي، نو د هغه تړون په ښکاره ډول د هغه په وړاندي وغورځوه. دا يقيني ده چې الله خائنان نه خوښوي»، همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د هغه چا امانت چې درسره وي ادا يي کړه او د هغه چا سره خيانت مکوه چې تا سره خيانت کوي.

همدارنګه نبي کريم صلى الله عليه وسلم د ټولو سره وفا کوله هغه په خلکو کې ډير با وفا سړی وو د هيچا خه يي نه هيرول او هر چا ته به يي ښيګڼه رسوله لکه چې پدي هکله بيلابيل احاديث د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه راغلي دي.

د هغه د وفا د ښو څخه بل هم دا دی چې حضرت خديجه رضى الله عنها سره يي په ژوندني او وروسته لدي چې رحلت يي وکړ مينه او محبت درلود او د هغي سره يي وفا کوله او د هغي د مرتبى په هکله ويلي چې الله تعالى د هغي څخه غوره ماته بيا رانکړل په هغه وخت کې يى په ما ايمان راوړ چې خلکو له ما څخه انکار کولو او په ما يي هغه وخت کې باور وکړ چې خلکو پرما دروغ تړل او پدي هکله حضرت عائشي رضى الله عنها څخه هم ويلى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم به هميشه حضرت خديجه رضى الله عنها يادوله او کله به يي چې مال حلال کړ د هغه په نامه به يي صدقه کوله.

همدارنګه د مسلمانانو پرته د نورو سره يي هم وفا کوله هه د بدر په ورځ وويل که چيرته مطعم بن عدى ژوندى واى او ددغه بنديانو په هکله يي ماته ويلى واى نو ما به آزاد کړي ول مطعم د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره نيکي کړي وه دا کله چې د طائف نه مکي ته راغى نو د هغه ترڅنګ پاتي شول.

همدارنګه د جګړي په وخت کې يې هم د دښمنانو سره وفا کوله لکه د حذيفه بن اليمان په حديث کې چې پدي هکله بيلابيلي خبري شوي دي کله چې د مکي د قريشو څخه دوی ولاړل مديني ته چې بيرته را ګرځوو نو کله چې بيا هلته ولاړو نو مونږ يي بيرته وليږلو ترڅو په هغه وعده باندي وفا وکړو چې مخکي مو کړي وو او سرغړونه تری ونکړو.
همداسي نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپلو بيبيانو سره د چال او چلند په برخه کي يوه ښه نمونه وړاندي کړي ده د خپلو بيبيانو سره يي په ډير خه ډول ژوند ترسره کړ چې د ميني محبت رحمت او د عاجزی ټولي نښي او نښاني پکي څرګندي وي هيڅکله يي ورباندي ظلم ندی کړی بلکه خه چال او چلند يي ورسره کولو ددغه آياتون سره سم چې الله تعالی فرمايي: « وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجاً لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ» ژباړه: « له هغو سره په ښه چلند ژوند تېر کړئ، او د هغه له نښانو څخه (بله) دا ده چي ستاسي لپاره، همدا ستاسي له جنس څخه يې ميرمني پيدا کړې، تر څو چي تاسي له هغو سره ارام تر لاسه کړئ او ستاسي (ښځي او خاوند) په منځ کښي يې مينه او خواخوږي پيداکړه. په باوري ډول پدې کښي د هغو خلکو لپاره ډيري نښاني دي چي غور او فکر کوي».
پيغمبر صلی الله عليه وسلم يو خه خاوند مهربانه وو هغه د خپلو بيبيانو د ژړا په وخت کې اوښکي پاکولي لکه چې د حضرت صفيه رضی الله عنها په هکله همداسي يو حديث راغلی دی لکه انس بن مالک چې روايت کړی دی دوی په يو سفر کي وو نو همدا واقعه بيا رامنځته شوي وه نو دا پخپله د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په مهربانۍ او شفقت دلالت کوي.
ددي ترڅنګ نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپلو اولادونو او لمسيانو سره يی هم د ډيري مهربانۍ او شفقت څخه کار اخيستلو هغه يو ډير خه پلار نيکه او رحم کوونکی وو چې خپلو بچيانو او لمسيانو ته يي د ميني

محبت رحمت سفقت نمونه وه لکه حضرت عائشي رضی الله عنها چې فرمايلي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فاطمي رضی الله عنها ته ډيره مينه او شفقت ورکولو کله به چې راغله ورته به دريدو او ښکلوله به يي.
د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي نبي کريم صلی الله عليه وسلم حسن بن علی يو ورځ ښکل کړ هلته اقرع بن حابس التميمی هم ناست وو هغه وويل زما لس زامن دي تراوسه مي يو هم ندی ښکل کړی نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته وليدل او وی ويل څوک چې رحم ونکړي په بل چا باندي په دوی باندي به هم رحم نه کيږي او يوه بله واقعه هم راغل؟ي ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم سجده ډيره اوږده کړه چې په هغي کي يي هم همدا د ميني او محبت او شفقت لامل موجود وو.
مونږ دلته پدي باندي ټينګار کوو چې دا يواځي د هغه د زامنو او لمسيانو پوري تړلي نه وه بلکه دا د هغه لاره او روش وو چې همداسي يي له ټولو سره مينه محبت او شفقت څخه کار اخيستلو د هيچا ترمنځ يي توپير نه کولو له ټولو سره يي نيکي کوله لکه چې همداسي د اسامه بن زيد رضی الله عنه څه روايت شوی ددي ترڅنګ انس بن مالک څخه هم روايت شوی دی هغه وايي ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم لس کاله خدمت وکړ پدي موده کې هه ماته اف هم ند ويلي او ماته يي کله ندي ويلي چې ولي دي داسي کړې او نه راته دا ويلي چې ولي دی دا پريښي؟.
نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپلو اصحابو سره د چال چلند په برخه کې يو مثال دی چې په خه ډول يي سرته رسولی دی د هغوی د خوښيو او خفګان او په هرڅه کې به يي ځان شريک ګڼلو د ورک پوشتنه به يي کوله د ناروغانو احوال به يي اخيستلو د هغوی د احساس درناوی به يي کولو لکه د سمالک بن حرب رضی الله عنه څخه چې روايت شوی دی چې د جابر بن سمره رضی الله عنه څخه يي پوښتنه وکړه نو هغه ورته

همدا وویل چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډیر مهربانه او د شفقت خاوند وو.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری،او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

نبی کریم صلی الله علیه وسلم د صحیح اسلام د پلي والي په برخه کي یوه نمونه ده چي پخپل انسانیت او اخلاقو سره دا ټولوته څرګند کړي ده هغه د منځلاریتوب او اعتدال په برخه کي یوه بهترینه نمونه وه څوک چي د اسلامي شریعت په احکامو کي فکر وکړي چي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هي دعوت کړی نو وبه ګوري چي د منځلاریتوب او اعتدال په ټولو برخو کي څرګندیږي د حضرت عائشي رضی الله عنها څخه روایت دی وایی پیغمبر صلی الله علیه وسلم به چي کله د دوو کارونو منځ کي اختیار ورکړل شو نو هغه به اسانه غوره کولو تر هغه پوري چي ګناه به پکي نه وه او که ګناه به وه نو بیا به یی ځان تر هر چا لیری ساتلو.

ددغه وسطیت او منځلاریتوب د ساتني لپاره نبي کریم صلی الله علیه وسلم د هر ډول تندروی او د حد څخه د تیري منعه کړی په ځانګړي ډول د تدین په برخه کي تندروی تر دي چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپلو هغو صحابه وو ته چي ډیر عبادت یي کولو نو هغوی یي هم اعتدال ته

رابلل لکه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ای خلکو په دين کې د تندروی څخه ځان وژغورئ ځکه له تاسو څخه مخکې چې څوک هلاک شوي هغوی په دين کې د حد څخه تيری کولو.
نو مونږ او تاسو ټول ديته اړتيا لرو چې د نبي کريم صلی الله عليه وسم په لاره روان شو او د هغه ټول هغه څه په نظر کې ونيسو چې پخپل رسالت کې مونږ ته يي راوړی دی چې نور هدايت دی لکه چې الله تعالی څنګه نازل کړی او د ټولو خلکو لپاره راغلی دی چې پکې نرمښت رحمت او د زړونو يووالی دی د اسلام رسالت بشپړ عدالت بشپړ رحمت بشپړ زغم بشپړه ګټه او بشپړ انسانيت دی.
ای الله! مونږته ستا محبت را په برخه کړې او ستا د رسول محبت را کړې او د هر هغه عمل توفيق راکړې چې ستا محبت پرې حاصليږي او زمونږ مصر کې امن او سوله راولې او د ټولې نړۍ هيوادونو کې سوله راولې.